پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۳۱

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

### لومړۍ برخه

تاو تریخوالی لکه تندر له بل ځای څخه نه را پریوزي، بلکې همدا ټولنه ده او همدا مشران دی چې له کوچنیانو او ماشومانو سره یې په پوهیدنه یا نه پوهیدنه کې، په رنګارنګ بڼو سره کوي.
زموږ د ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او خیرې موږ ته وایي:

**موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې نه غواړو د خبرو اوریدو**
**په ځای مو پر مخ څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې د مثبتو**
**لوستونو او موزیک د اوریدو پر ځای د ټوپک او بمونو درزا واورو.**

*********

**د ماشوم د حقونو اړوند، که د افغانستان ټولنه، په ټول کې و ارزول شي،**
**داسې باید و ویل شي چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره**
**د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**



د کوم دلیل او قانونه له مخې دا کوچنیان وهل شوي او ربړول شوي دي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په ټوله نړۍ، په تېره زموږ په هیواد افغانستان کې تجربو ښودلې ده چې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاو تریخوالی، د یوې ټولنې د بربادۍ اساس جوړوي. زموږ په ټولنه کې دا منفي کار د سواد، تعلیم او پوهې د نشتوالي یا ضَعف په وجه، له ډېر پخوا نه موجود و او لکه میراث، نوبو نسلونو ته هم رسیدلی دی.

همدې ستونزو ته په کتو سره او د نوي نسل د روزلو له نهضت سره د مرستې په پار، ما ګڼې مقالې ولیکلې چې یوې ته مې د **«له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه»** سرلیک وټاکه، په څو برخو کې مې خپره کړه او وروستۍ برخه یې د ۲۰۱۷ کال د اپریل په اوه ویشتمه نیټه (۲۰۱۷/۰۴/۲۷) پرلیکه شوه.

په یاده مقاله کې مې ښودلې و چې تاوتریخوالی یوازې فزیکي زورنه او وهل ټکول نه دي، بلکې نور ډېر ډولونه هم لري چې د نا پوهېدنې په حالت کې یې زموږ ډېری افغانان خپل حق ګڼي. لکه ماشوم یا کوچني ته ښکنځلې کول او چغې ورباندې وهل چې ښايي ځینو مشرانو ته دا یوه ساده موضوع ښکاره شي، خو په دې نه پوهیږي چې ماشومانو او کوچنیانو باندې په قهر چیغې وهل او ښکنځلې کول د هغوی رواني مانۍ او د شخصیت غر نړوي او داسې یې له ماتې سره مخ کوي چې بیا د رغیدو او ترمیم نه وي او په حقیت کې موږ راتلونکې ټولنې ته یو معیوب غړي ور وړاندې کوو.



زموږ د ټولنې دا او دې ته ورته په لکونو کوچنیان د خپل ماشومتوب له دوه سلنې حقونو هم نه دي برخمن، مسولیت یې چا ته ور له غاړې دی؟

په تیرو مقالو کې ما د تاو تریخوالي دغو ډولونو ته نغوته کړې وه:

زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشل شي:

**۱ ـ رواني تاوتریخوالی:**

(ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

**۲ ـ جسمي تاوتریخوالی:**

(وهل ټکول، شاقه کارونه، جګړو ته اړ ایستل)،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

### ۳ ـ جنسي تاوتريخوال.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي دغه ډولونه چې ما په نښه کړي دي، ښايي نيمګړي به وي، خو اساسي برخي يې همدا دي چې هره برخه يې بيا ښايي په ځانګو هم و ويشل شي چې له بده مرغه موږ ته او زموږ ټولني کې يې ميراثي بڼه غوره کړې ده او ما يې د حل يوه لار په خپلو تيرو مقالو کې ښوولې وه چې لنډيز يې دلته بيا را اخلم:

«د عيني محسوسو تجاربو له مخي چې زموږ ټولنه مطالعه شي، دا ثابتيږي چې هر هغه مشر چې له کوم کشر سره تاوتريخوالی کوي، خامخا له هغه مشر سره د ماشومتوب او کوچنيوالي په دوران کې دې ته ورته تاوتريخوالی شوی دی، چې دی يې اوس په شعوري يا غير شعوري توګه، په عقدوي ډول له خپلو کشرانو سره کوي. موږ مشران بايد دغي ترخي تکراريدونکي تجربې ته او دې ترخه حقيقت ته په کتو سره دې تاوتريخوالي ته د پای ټکی کيږدو، هغه داسي چې دا قرباني ورکړو چې له موږ سره په شوي تاوتريخوالي سترګي پټي کړو، ور نه تير شو، څو دا عقده او دا ترخه تجربه چې له نسلونو، نسلونو تر موږ پورې را رسيدلې ده، بل نسل ته و نه ليږدول شي او که يې لکه د تيرو نسلونو په شان چې موږ ته يې را سپارلې ده او موږ يې راتلونکي نسل ته وسپارو، نو له راتلونکي نسلونو سره به مو له دې نه هم ستره جفا کړې وي، لکه تيرو نسلونو چې له موږ سره کړې ده.

کله چې موږ له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي له لارې عقدوي چلند کوو، نو په حقيقت کې موږ د هغوی د ذهن په کرونده کې د عقدو او ستونزو تخم کرو چې په زلميتوب او له هغه نه وړاندې په ژوند کې د هغوی هر څه په زهرو لړي.»

د لومړۍ برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولــئ